قرآني بیان

# عارضي اَستوګنه

(پاره: 1، سورۃ البقرۃ: 36)

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره



په 27 فروری، کال 2026ء
(متطابق: 9 رمضان شریف، کال 1447ھ)
د جُمعةُ المبارک
(For Islamic Brothers)

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 27 فرورى، كال 2026ء (متطابق: 9 رمضان شريف، كال 1447ھ) د جُمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

په نوم

(پاره: 1، سورۂ البقرۃ: 36)

# عارضي اَستوګنه

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د يوې عوامي غلط فهمئ اِصلاح
- عجيبه پوښتنه، ښکلے جواب
- د اِسلام ښکلا او د الحاد بدي
- د کور نۀ جوړولو نا اشنا وجه


پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK (+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES (+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُود شریف فضیلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم: اَلصَّلَاةُ عَلَيَّ نُوْرٌ عَلَى الصِّرَاطِ وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ثَمَانِيْنَ مَرَّةً غُفِرَ لَهٗ ذُنُوْبُ ثَمَانِيْنَ عَامًا۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په ما باندې درود وئيل په پل صراط باندې نُور دے، څوک چې په ما باندې د جُمعې په ورځ 80 کرته درود شریف ولولي، د هغهٔ به د 80 کالو ګناهونه معاف شي۔ (1)

مومنو! آپ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پر پڑھے جاؤ! | با ادب اور با وقار درود
نزع میں، گور میں، قیامت میں | ہر جگہ یارِ غمگسار درود
جو محبِّ نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ہے اے کافیؔ | چاہیے اس کو بار بار درود (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْکَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

---

1 ...مسند الفردوس، باب الصاد، جلد:2، صفحه:408، حديث:3814۔

2 ...کافی کی نعت، صفحه:38 ملتقطًا۔

وَ قُلْنَا اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَ لَكُمْ فِی الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّ مَتَاعٌ اِلٰی حِیْنٍ (۳۶)

(پاره: 1، سورۂ البقرة: 36)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او مونږه وفرمائل تاسو ښکته کوز شئ تاسو کښې به بعضې د بعضو دښمنان يـې او ستاسو د پاره د يو خاص وخته پورې په زمکه اوسيدل او (د ژوند تيرولو) سامان دے۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## درود او سلام موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ دې دُنيا ته راغلو، دلته اوسيږو، ډير زر به د دې ځائے نه د بل جهان طرف ته سفر کوو۔ که مونږ لږ غور اوکړو نو په دې دُنيا کښې زمونږ مختلف قِسمه تعلقات وي، ✿ د مور او پلار سره زمونږ د اِحترام تعلق دے ✿ د خپل اولاد سره زمونږ د محبت تعلق دے ✿ د دوستانو خپلوانو سره د زړهٔ لګيدو تعلق وي ✿ داسې چې کله په سفر ځو نو په لاره کښې بعضې وخت د چا سره سلام دُعا کيږي، دا د يو لږ ساعت او عارضي تعلق وي، سوال دا دے چې د دُنيا سره زمونږه تعلق د کوم قِسم دے؟ مونږ د وړومبی سيپارې، د سورۂ بقره، د آيت: 36 د يوې حصې د اوريدو سعادت حاصل کړو، په دې آيت مبارک کښې د دغه سوال جواب ورکړے شوے دے۔ يعنې د دې دُنيا سره زمونږه تعلق د کوم يو دے، دا حالت واضحه کړے شوے دے۔ اِرشاد دے:

وَ قُلْنَا (پاره:1، سورۂ البقرة:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او مونږه وفرمائل۔

يعنې کله چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په جَنَّت کښې وو او د جَنَّتي ونې د ميوې د خوړلو والا واقعه وشوه، د دې نه پس الله پاک وفرمائيل، څهٔ يـې وفرمائيل:

اِهْبِطُوْا (پاره:1، سورۂ البقرة:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تاسو ښکته کوز شئ۔

يعنې اے آدمه عَلَيْهِ السَّلَام ! تاسو او ستاسو په ملا کښې چې ستاسو کوم اولاد دے، تاسو ټول د جَنَّت نه زمکې ته کوز شئ! (1)

بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ نُفُسِكُمْ (پاره:1، سورۂ البقرة:36)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تاسو کښې به بعضې د بعضو دښمنان يې۔

يعنې اے آدمه عَلَيْهِ السَّلَام! ستاسو اولاد به د يو بل دښمنان وي- غير مسلمه به د مسلمانانو سره هميشه دښمني کوي، د باطلې او د غلطې لارې مسافر به هميشه د حق پرستو سره دښمني کوي- (2)

## د يوې عوامي غلط فهمۍ اِصلاح

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دلته د يوې عوامي غلط فهمې ازاله کيږي- بعضې بے باکه خلق وائي چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام مونږ د جَنَّت نه راويستو، جَنَّتي ميوه هغوئي وخوړله او سزا يې مونږ خوړو-

دا ډيره خرابه خبره ده، مونږه حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د جَنَّت نه زمکې ته نۀ يو راوستي بلکې دا مونږ خلق يو چې د هغوئي زمکې ته د راتللو سبب جوړ شو- حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام خو مخکښې هم جَنَّتي وو او اوس هم جَنَّتي دے، په اصل کښې د هغوئي په اولاد کښې دوه قِسمه خلق وو، يو دينداره او بَل بے دينه، يو جَنَّتيان او بل دوزخيان او د هغوئي هميشه په خپل مينځ کښې دښمني وه، ځکه الله پاک حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د جَنَّت نه زمکې ته راوليږلو چې اے آدمه عَلَيْهِ السَّلَام ! زمکې ته لاړ شئ! ستاسو اولاد به په زمکه باندې اوسيږي، په هغوئي کښې به فرق اوکړے شي، بيا چې د قيامت په ورځ کوم دوزخيان دي، هغوئي به دوزخ ته لاړ شي او تاسو او ستاسو جَنَّتي اولاد به بيا د هميشه هميشه د پاره جَنَّت ته داخل کړے شئ! (3)

---

1...حاشيه صاوی علی الجلالين، پاره:1، سورۂ بقرة، زير آيت:36، جز:1، جلد:1، صفحه:6463 خلاصةً۔

2...تفسير نعيمی، پاره:1، سورۂ بقرة، زير آيت:36، جلد:1، صفحه:303 خلاصةً۔

3...تفسير نعيمی، پاره:1، سورۂ بقرة، زير آيت:36، جلد:1، صفحه:307 خلاصةً۔

## عجیبه پوښتنه، ښکلے جواب

حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُما صحابئ رسول دے، د علمِ تفسیر ډیر لوئي ماهر وو، هغوئي ته سُلطَانُ المُفَسِّرِین وئیلے شي- یو ځل د رُوم بادشاه هغوئي ته خط راولیږلو او عجیبه شان پوښتنه یـې اوکړه، هغهٔ لیکلي وو: د چا کره چې میلمه راشي، آیا د هغهٔ د پاره دا مناسب دي چې هغه میلمه د کور نه اوباسي؟ (د هغه اِشاره د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام طرف ته وه چې هغوئي پهٔ جَنَّت کښې وو، بیا الله پاک هغوئي ته زمکې ته د راتللو حکم اوکړو)-

لکه څنګه چې پوښتنه نا اشنا وه، حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُما جواب هم نا اشنا ورکړو، هغوئي هغه ته پهٔ جواب کښې ولیکل: میلمه د کور نه ویستل خو مناسب نهٔ دي، البته چې کله میلمه کور ته راځي نو هغهٔته وئیلے شي چې: د سفر جامې اوباسئ او ځان تازه کړئ! (یعنې مخ لاس وینځئ! د ځان نه دوړه وغیره وڅنډئ! که د بیتُ الخلاء حاجت وي نو پوره یـې کړئ!)، بیا به پهٔ اطمینان سره پهٔ دسترخوان کښینی-

د الله پاک د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د جَنَّت نه زمکې ته راکوزول هم پهٔ دې حیثیت سره وو (یعنې وفرمائیلے شو! اے آدمه عَلَیْہِ السَّلَام ! زمکې ته لاړ شئ! ستاسو پهٔ ملا مبارکه کښې چې کوم اولاد دے، پهٔ هغوئي کښې چې کوم نالائقه دي، هغوئي هم هلته پریږدئ! دا بوج د ځان نه وغورځوئ بیا تاسو او ستاسو د جَنَّت لائق اولاد واپس تشریف راوړئ! بیا به پهٔ سکون سره پهٔ جَنَّت کښې اوسیږئ)- (1)

## بے دینه همیشه دښمني کوي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې ځائے نه مونږ ته دا هم معلومه شوه چې ځینې خلق کوم چې دا وائي: ټول پهٔ خپل خپل ځائے باندې ټیک دي- څوک چې پهٔ کومه لار باندې ځي، کُفر کوي یا مسلمان اوسي، ټول ټیک دي- د هغوئي دا سوچ بالکل غلط دے- ټول

---

1...نوادر القلیوبی، الحکایة الثالثة والسبعون، صفحه:55-

خو بالكل ټيک نشي كيدے- مسلمانان مسلمانان دي او غير مسلمه غير مسلمه دي، لكه ځنګه چې وور او اوبۀ يو ځائے كيدے نشي، هم داسې پۀ حق باندې تلونكي او پۀ غلطو لار و باندې مسافر چرې هم يو نشي كيدے-

سَتِيزَہ کار رہا ہے اَزَل سے تا اِمرَوز | چراغِ مصطفوی سے شرارِ بُولَہبی[1]

وضاحت: يعني هميشه داسې شوي دي چې چراغِ مصطفوي (يعنې د رښتوني دِين د نُور) سره شرارِ بُو لـهبي (يعني د باطل سکروټو) دښمني كړې ده-

الله پاک دې مونږ ته هميشه پۀ حق لاره باندې د تللو توفيق راعطا كړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عارضي استوګنه

الله پاک نور اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّ مَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٣٦﴾ (پاره:1، سورۃالبقرۃ:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او ستاسو د پاره د يو خاص وخته پورې پۀ زمكه اوسيدل او (د ژوند تيرولو) سامان دے- |

دا زمونږ او د دې دُنيا پۀ خپل مينځ كښې د تعلق بيان دے، زمونږ د دې دُنيا سره د احترام تعلق نۀ دے، د محبت تعلق نۀ دے بلكې مونږ پۀ دې دُنيا كښې د يو مسافر پۀ شان يو، لكه ځنګه چې انسان سفر كوي، پۀ لاره كښې د خپلو ضرورتونو د پاره څۀ وخت له ايساريږي، بيا د خپل منزل طرف ته ځي، زمونږه هم دا حال دے، زمونږه منزل د الله پاک قُرب او د هميشه د پاره جَنَّت دے- مونږ د عالِمِ ارواح نه راروان يو، د يوې ټاكلے شوې مودې پورې به پۀ دُنيا كښې اوسيږو، بيا به عالمِ برزخ ته لاړ شو، بيا به د هُغه ځائے نه د حشر طرف ته سفر وي، بيا به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! خپل منزل يعني جَنَّت ته ورسيږو-

---

1... کلیاتِ اقبال، بانگِ درا، صفحہ:251۔

جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے | یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

## زما د دُنيا سره څۀ تعلق---؟

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: يوه ورځ ما وليدل چې سرورِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کجورو پۀ چټائي ارام فرمائي او د هغوئي پۀ ډېرو مبارکو باندې چټائي نخښې جوړې کړې دي، ما عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږ له اجازت راکړئ چې پۀ دې چټائي باندې څۀ بستره خورۀ کړو د پاره د دې چې تاسو پۀ سکوان سره ارام اوکړے شئ- پۀ دې اوريدو رحمتِ دارَين، مالِکِ کونَين صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: زما د دُنيا سره څۀ تعلق---؟ زما او د دُنيا مثال خو داسې دے لکه څنګه چې څوک مسافر د سختې ګرمۍ پۀ ورځ سفر کوي، هغه وخت هغه د يوې ونې لاندې ايسار شي، لږ وخت ارام اوکړي، بيا پۀ خپله لار روان شي-[1]

ہے چٹائی کا بچھونا، کبھی خاک ہی پہ سونا
کبھی ہاتھ کا سرہانا مَدَنی مدینے والے!
تری سادگی پہ لاکھوں، تری عاجزی پہ لاکھوں
ہوں سلام عاجزانہ مَدَنی مدینے والے![2]

## پۀ دُنيا کښې د مسافر پۀ شان اوسيږئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا حقيقت دے، مونږ ټول مسافر يو، دا دُنيا لکه چې د صحرا پۀ مينځ کښې يوه ونه ده، مسافر راځي، د څۀ وخت د پاره دلته ايساريږي او د اخرت طرف ته ځي- آيا څوک مسافر پۀ يوه لاره کښې پۀ څۀ ځائے کښې زړۀ لګوي؟ مونږ هم پۀ ژوند کښې سفر کوو، چرته داسې شوي دي چې مونږ پۀ سفر باندې يو، پۀ لار کښې چرته

---

1...الزہد والرقائق امام ابن المبارک، باب فی التواضع و کراہیۃ الکبر، صفحہ:54، حدیث:195۔
2...وسائل بخشش، صفحہ:426۔

څهٔ ښکلے ځائے راشي نو مونږ هلته زړهٔ لګولے وي چې بس اوس کور ته نهٔ ځو، اوس ژوند هم دلته تيرول دي؟ يا پهٔ لاره کښې د خوراک وغيره کولو د پاره پهٔ يو هوټل کښې ايسار شوي يو نو هلته مو زړهٔ لګولے وي؟ نا--!! داسې نهٔ کيږي- مسافر د سفر پهٔ وخت ډير ښکلي ځايونه ويني، بعضې وخت پهٔ هوټلو وغيره کښې ايساريږي نو د کور پهٔ نسبت ډير سکون محسوسوي، د دې باوجود هم هغه هلته زړهٔ نهٔ لګوي، د هُغه ځائے پهٔ نعمتونو کښې نهٔ ورکيږي، زر خپل کور ته واپس ځي- دا دُنيا هم داسې ده، مونږ ټول مسافر يو، د څهٔ مودې د پاره دلته ايسار شوي يو، ډير زر به د اخرت پهٔ سفر باندې روانيږو- ځکه دلته هيڅکله هم زړهٔ لګول نهٔ دي پکار- پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: كُنْ فِي الدُّنْيَا كَاَنَّكَ غَرِيبٌ اَوْعَابِرُ سَبِيلٍ پهٔ دُنيا کښې داسې اوسيږئ لکه څنګه چې نا اشنا وي يا خوک مسافر وي-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا ډير د سبق نه ډک حديث شريف دے، دا حديثِ پاک پهٔ خپل زړهٔ باندې نقش کول پکار دي، د خپل هر کار، هرې معاملې بنياد پهٔ فنا باندې ساتئ، پهٔ بقا باندې يـې مهٔ ساتئ-

## د اِسلام حُسن او د الحاد بدي

يوه قيمتي خبره درته اوکړم: دا چې کوم مغربي کلتور (***Western Civilization***) دے، پهٔ کوم کښې چې اِلحاد (***Atheism***)، سيکولر ازم (***Secularism***)، ډِي اِزَم (***Deism***) وغيره شامل دي، د هغوئي دننه نظام بالکل تالا ترغه شوے دے- د هغوئي سره هيڅ د اخلاقو ضابطه نشته، دا خلق خُدائے هډو مني نهٔ، د هغوئي نعره ده ***There is no God*** هيڅ خُدائے نشته- (اَستَغفِرُ الله!) هغوئي د اخلاقو او کردار او د معاشرتي اُصولو (***Social Principles***) بنياد پهٔ **بقا** باندې ايښودے دے- د هغوئي ټوله معاشره د بقائے

---

1...الزہد الامام احمد، زہد النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، **صفحه**:23، **حديث**:42-

باهمي پۀ اُصول باندې چلېږي- يعني پخپله ژوند کوه او نور ژوند ته پرېږده (*Live and Let Live*) مطلب دا چې دوئي وائي: ❁ مونږ به چا له تکليف نۀ ورکوو، د پاره د دې چې څوک مونږ له تکليف نۀ راکوي ❁ مونږ به د چا مال نۀ لوټ کوو، د پاره د دې چې څوک زمونږ مال لوټ نۀ کړي ❁ مونږ به د چا سره بد نۀ کوو د پاره د دې چې څوک زمونږ سره بد سلوک اونۀ کړي-

اوس د دې نظام خرابي پوهيږئ چې څۀ ده؟ هر هغه کَس کوم چې د پيسو والا دے، د ډير طاقت والا دے، د لوئي عهدې والا دے، هغه پۀ نورو باندې ظلم هم کوي، نور د ځان نه کم تر هم ګڼي، د نورو حقونه هم خوري- ولې؟ ځکه چې هغه پوهيږي چې زۀ د پيسو والا يم، طاقت، قانون هر څۀ زما د کور وينزه ده، څوک زما يو وېښتۀ ته هم نقصان نۀ شي رسولے، ځکه هغه ښکاره ظلم کوي، داسې معاشره د يوې عجيبه بے اِعتدالئ ښکار کيږي- او دا صرف کتابي خبرې نۀ دي، پۀ مغربي کلتور کښې داسې هر څۀ کيږي- د دې هر څۀ وجه څۀ ده؟ هغوئي د معاشرې او د کلتور بنياد پۀ بقا باندې کيښودو- بس څوک چې پوهيږي چې څوک زما هيڅ نشي کولے، هغه سرکشي شروع کوي- رښتيا خبره دا ده چې د سر نه دا قانون هم غلط دے- حقيقت دا دے چې دلته چا ته هم بقا نشته، پۀ زمکه باندې چې څۀ دي، هر څۀ فاني دي- پۀ قرآنِ پاک کښې دي:

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾
(پاره:27، سورۀ الرحمٰن:26)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: پۀ زمکه چې څومره مخلوق دے ټول فنا کيدونکے دے-

د دې مغربي کلتور پۀ مقابله کښې د اِسلام ښکلا ته وګورئ! اِسلام د کلتور (*Civilization*)، اخلاقو، کردار (*Character*)، هر څيز بنياد د الله پۀ رضا باندې ايښودے دے ❁ يو حقيقي مسلمان د نورو سره دې د پاره نيکي نۀ کوي چې سبا هغوئي هم د دۀ سره نيکي اوکړي بلکې د هغۀ مقصد د رَبّ رضا وي ❁ يو حقيقي مسلمان نورو ته د تکليف ورکولو نه دې د پاره ځان نۀ ساتي چې دے د تکليف نه بچ شي ❁ مونږ

د نورو سره پهٔ مُسکا دېِ د پاره نهٔ میلاوېږو چې نور هم زمونږ سره پهٔ مُسکا میلاوْ شي ❁ مونږ د چا مالي مرسته دېِ د پاره نهٔ کوو چې سبا به زمونږه هم مدد کولے شي بلکې اِسلام مونږ ته راښائي چې **مونږه دلته څهٔ هم کوو، نو د اللّٰه پاک د رضا د پاره کول پکار دي-**

اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَ نُسُكِیْ وَ مَحْیَایَ وَ مَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ﴿۱۶۲﴾ (پاره:8، سورۂ الانعام:162) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تهٔ وفرمایه، بے شکه زما نـمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ ټول د اللّٰه د پاره دي چې د ټولو جهانونو رب دے- |

ډاکټر اِقبال وئیلي وو:

بَر تَر اَز اَندیشۂ سُود و زیاں ہے زندگی
ہے کبھی جاں اور کبھی تسلیمِ جاں ہے زندگی (1)

**مفهوم:** ژوند د ګټې او د تاوان (***Profit and Loss***) د اندیښنو نه ډیر اوچت څیز دے، د همیشه ژوندي اوسیدو نوم ژوند نهٔ دے بلکې چې د اللّٰه پاک رضا پهٔ سر قربانولو کښې وي نو سر قربانول ژوند جوړیږي-

دا د اِسلامي تهذیب یعني کلتور ښکلا ده چې **د اِسلامي کلتور (*Islamic Civilization*) بنیاد پهٔ بقا باندې نهٔ بلکې د اللّٰه پاک پهٔ رضا باندې ایښودے شوے دے-** کله چې دا بنیاد پهٔ ټوله معاشره کښې پوره قائم شي نو د مالداره او د غریب فرق ختم شي، پهٔ معاشره کښې لِلّٰهِیَت، اخوت، محبّت، ورورولي او قرباني وده اوکړي-

## د اِیثار او د قربانۍ عظیمه واقعه

د جنګِ یرمُوک موقع وه، جنګ ختم شوے وو، د صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان پهٔ زخمونو باندې پټۍ ایښودلے کیدلې، حضرت حُذَیفه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما هغه وخت پهٔ لاس

1...کلیاتِ اقبال، بانگ درا، صفحه:287۔

کښې اوبۀ نيولې وې او خپل د ترۀ څوي مې لټولو، پۀ لټولو لټولو مې اخر هغه پيدا کړو، هغه ډېر زخمي شوے وو او ځنکدن يې وو، زۀ هغۀ ته ورنزدې شوم او وه مې وئيل: وروره! اوبۀ به څښې؟ هغۀ پۀ لړزيدونکي اواز کښې ووئيل: آؤ! څښم به- ما لا هغۀ له اوبه ورکولې چې د چا د فرياد اواز راغلو، اخري سلګئ وهونکي زما د ترۀ څوي پۀ اِشاره ووئيل: ما پرېږده! وړومبے هُغه زخمي له اوبۀ ورکړه! ما د دويم زخمي طرف ته منډه کړه، لا مې هغوئي له اوبۀ ورکولې چې د خوا نه د بل چا د فرياد اواز راغلو، هُغه دويم زخمي صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم کمال قرباني وښودله او اوئې وئيل: وړومبے هُغه زخمي له اوبۀ ورکړه! بيا زۀ د هُغه دريم زخمي خوا له لاړم خو هغۀ ته بيا د اوبو حاجت نۀ وو پاتې، هغه شهيد شوے وو- زۀ فوراً د وړومبي صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خوا له لاړم، هغه هم شهيد شوے وو، بيا پۀ منډه د خپل ترۀ څوي خوا له لاړم، زما د ور رسيدو پورې هغه هم ساه ورکړې وه- (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے د اِسلام حُسن--!! يو رښتونے مسلمان پۀ دې دُنيا کښې د بقا (يعنې ژوندي پاتې کيدو د پاره) ژوند نۀ کوي بلکې د رَبّ د رضا د پاره ژوند کوي- هم دا فرق دے پۀ اِسلامي تعليماتو کښې او پۀ نورو کلتورونو کښې--! الله پاک دې مونږ ته د اِسلام پۀ اعلیٰ او رښتينو تعليماتو باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د هرې معاملې بنياد پۀ فنا باندې کيږدئ!

خورو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ پۀ دې دُنيا کښې مسافر يو، زمونږه ژوند دُنيا ښه کول نۀ بلکې خپل رَبِّ کريم راضي کول دي- ځکه مونږ له پکار دي چې هر وخت، هر ساعت دا پۀ ذِهن کښې ساتو چې مونږه فاني يو، ډېر زر مونږ ته د دُنيا نه رخصتيدل دي-

---

1...کيميائے سعادت، اصل ششم بخل و جمع مال، پيدا کردن ثواب ايثار، صفحه:255-

پخپله سوچ اوکړئ چې ❀ مونږه فاني يو نو د جګړې کولو نه څۀ فائده ❀ چې مونږه فاني يو نو فخر او تکبر پۀ څۀ خبره ❀ چې مونږه فاني يو نو پۀ حُسن، عقل او پيسه وغيره باندې د فخر کولو څۀ فائده ❀ چې مونږه فاني يو--! که هر څۀ اوکړو، اخر هم د دې دُنيا نه تلل دي نو دلته د زړۀ لګولو نه څۀ فائده ❀ که زمونږه فالورز پۀ لکونو کښې وي او که پۀ کروړونو کښې، ضرور مړۀ کيدل دي، بيا د حُبِ جاه او د حُبِّ مدح يعني د نوم او د شهرت پۀ محبت باندې به مونږه څۀ کوو؟

## د اميرِ اهلِسُنَّت نا اشنا سوچ

يو ځل شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مدني مذاکره کښې د شرکت کولو د پاره تياري کوله، هغه وخت يو اِسلامي ورور پۀ موبائل د هغوئي نه تصوير وويستو (پۀ موبائل باندې چې کوم تصوير ويستلے کيږي، دا جائز دے، د خو پورې چې د دې نه پرنټ وه نۀ ويستلے شي نو اِسلامي ورور د هغوئي نه تصوير وويستو) او هغوئي ته يې وښودلو- اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: زما هغه خپل تصوير ډير خوښ شو، بيا مې ورسره سوچ اوکړو چې دا ښکلے مخ به يوه ورځ قبر ته کوز شي- فرمائي: پۀ دې سوچ کولو زما پۀ سترګو کښې اوښکې راغلې-

اَللّٰهُ اَكْبَر! دا حقيقت دے- چې مونږه فاني يو، يوه ورځ قبر ته ضرور کوزيدل دي، پته نۀ لګي چې زمونږه قبر به د جَنَّت باغ وي که مَعَاذَالله! د دوزخ کنده به جوړيږي- چې معامله داسې ده نو بيا پۀ غرور، تکبر او فخر وغيره کښې د پريوتو څۀ فائده---!! بس سر ښکته کړئ! پۀ عاجزي او اِنکساري سره، څۀ چې الله پاک درکړي دي، پۀ هغې باندې پۀ راضي اوسئ، د حرص او د هوس نه پۀ بچ کيدو سره ژوند تير کړئ- پۀ دې کښې خير دے، پۀ دې کښې زمونږه بهتري ده-

دنيا فاني ہے اہلِ دنيا فانی | شہر و بازار و کوہ و صحرا فانی

دل شاد کریں کس کے نظّارہ سے حسنؔ | آنکھیں فانی ہیں یہ تماشا فانی (1)

## د لښکر د سپه سالار نه غرور اووتوو

يو ډېر ظالِم حکمران تير شوے دے: حجاج بن يُوسُف- د هغهٔ د فوځ يو سپه سالار وو، د هغهٔ نوم مُهَلِّب وو- يوه ورځ مُهَلِّب د ريښمو جامې اغوستې وې او پهٔ فخر او غرور سره روان وو، حضرت مُطَرِّف بن عبد الله رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه چې هغه داسې پهٔ تکبر کښې پهٔ ګرځيدو وليدو نو پهٔ زړهٔ کښې يـې د نيکۍ د دعوت جذبه راښيداره شوه، حضرت مُطَرَف بن عبد الله رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه خوا له تشريف وروړلو او اوئې فرمائيل: اے د الله بنده! د ګرځيدو دا انداز د الله پاک د ناخوښه خلقو او د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دښمنانو دے-

مُهَلِّب د فوځ سر لښکر وو، د عهدې او د منصب نشه د هغهٔ پهٔ مزغو سوره وه، کله چې هغهٔ وکتل چې يو ګس هغهٔ ته نصيحت کوي نو پهٔ غصه کښې يـې ووئيل: آيا تهٔ ما نهٔ پيژنې چې زهٔ څوک يم؟ حضرت مُطَرَف بن عبد الله رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هم مَاشَآءَالله! زنده دل سړے وو، هغوئي پهٔ نرمۍ سره اِرشاد وفرمائيلو: آؤ! پيژنم دې چې تهٔ څوک يـې: اَوَّلُكَ نُطۡفَةٌ مَذِرَةٌ ستا وړومبے حالت دا دے چې تهٔ يو نا پاک څاڅکے وې، وَ آخِرُكَ جِيۡفَةٌ قَذِرَةٌ ستا اخري حالت به دا وي چې تهٔ به سخا مُرداره شې وَاَنۡتَ تَحۡمِلُ الۡعَذِرَةَ او (د دې دواړو حالتونو ترمينځه) تهٔ پهٔ خيټه کښې ګند ګرځوې- پهٔ دې اوريدو د مُهلِّب عقل ځائے له راغلو، هغه د تکبر تګ پريښودو او وړاندې روان شو- (2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا اصلي حقيقت دے، مونږ پهٔ شروع کښې هيڅ هم نهٔ وو، پهٔ اخره کښې به مړهٔ شو او د خاورو سره به خاورې شو- د دې پهٔ مينځ کښې چې کومه موده ده يعنې زمونږه ژوند، مونږ له پکار دي چې دا ژوند پهٔ ښه انداز کښې تير

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:303-

2...اللباب فی علوم الكتاب، پاره:29، المعارج، زير آيت:39، جلد:19، صفحه:375 خلاصةً-

کړو ❀ غرور کول ❀ فخر کول ❀ تڪبر کول ❀ لوئي لوئي خبرې کول ❀ ځان ستائل ❀ سرکشي کول زمونږ اِنسانانو سره نهٔ ښائي- مونږ دې دُنيا ته راغلي يو، زمونږ دلته د راتللو يو مقصد دے، چې دا مقصد پوره کړو، پهٔ دې دُنيا کښې زړهٔ نهٔ لګوو-

## د کور نهٔ جوړولو نا اشنا وجه

يو ځل د الله پاک نبي حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د يو غر پهٔ خوا تيريدلو، هغوئي وکتل چې يو بوډا ګس دے، د غر پهٔ خوا کښې د الله پاک پهٔ عبادت کښې مصروف دے- هغوئي د هٰغه بوډا عبادت کوونڪي نه پوښتنه اوکړه: اے اِنسانه! تا د ځان د پاره کور ولې نهٔ دے جوړ کړے،چې د هغې پهٔ ذريعه به تهٔ د يخنئ او ګرمئ نه بچ کيدلے؟ هٰغه بوډا عبادت ګزار ډير ښکلے جواب ورکړو، اوئې وئيل: اے د الله پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام! زهٔ ستاسو نه مخکښې د نبيانو پهٔ خدمت کښې حاضر شوے يم، هغوئي ماته وئيلي وو چې زهٔ به پهٔ دې دُنيا کښې د 700 کالو نه د زياتې مودې پورې ژوندے نهٔ پاتې کيږم- بس زما عقل دا ضروري اونهٔ ګڼله چې د دومره کمې مودې د پاره زهٔ د الله پاک عبادت پريږدم او پهٔ کور جوړولو کښې مصروف شم- حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: ډير زر به يو قوم راځي، د هغوئي عمرونه به د 100 کالو نه زيات نهٔ وي، بيا به هم هغوئي لوئي لوئي محلونه جوړوي-[1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! 700 کاله ژوند---!! دومره لويه موده---!! او ښکلي سوچ ته يې وګورئ! بزرګ سوچ کولو چې اخر خو هم مړهٔ کيدل دي، بيا دلته د کور جوړولو څهٔ فائده، وخت ڪم دے، ځهٔ چې د الله پاک عبادت اوکړو---!!

الله! الله! زمونږه څهٔ حالت دے---!! بالکل هم هٰغه کوم چې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيلو، ژوند د 100 کالو نه هم ڪم بلکې اوس خو اوسطاً 60 کاله وي خو انداز داسې

1... حکايات وقصص، ياتي في آخر الزمان امة لاتجاوز...الخ، الحکاية:50، صفحه:71-

لکه مونږ ته چې همیشه دلته اوسیدل وي-

آگاہ اپنی موت سے کوئی بشر نہیں | سامان سو برس کا ہے پل کی خبر نہیں

## د بیان خُلاصه

خیر! د بیان خُلاصه دا ده چې دُنیا زمونږه عارضي د اوسیدو ځائے دے، مونږ دلته د مسافرو په شان یو، ډیر زر به د دې فاني جهان په پرېښودو د بل جهان طرف ته سفر کوو، ځکه مونږ له پکار دي چې دا مختصر ژوند په ښه انداز کښې تیر کړو، په نیکو کښې د تیرولو، د نورو سره په ښیګړو کولو یې په ښه انداز کښې تیر کړو- په جنګ جګړو، وهلو ټکولو، حرص او لالچ وغیره کښې هیڅ نشته، ګاډے، بنګله، کور، بینک بیلنس، لوئي لوئي میډلز، د اعلیٰ کارکردګۍ اعزازونه هر څۀ به هم داسې پاتې شي او مونږ به د دې ځائے نه روان شو- ځکه

ایسے رہا کرو کہ کریں لوگ آرزو
ایسا چلن چلو کہ زمانہ مثال دے

الله پاک دې مونږ ته د پاک ژوند تیرولو توفیق راعطا کړي- اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه ډیره ښکلې دُعا کړې ده، راځئ چې په شریکه یې اوکړو:

واسطہ پیارے کا ایسا ہو کہ جو سُنّی مرے
یوں نہ فرمائیں ترے شاہِد کہ وہ فاجِر گیا
عرش پر دُھومیں مچیں وہ مؤمنِ صالِح مِلا
فرش پر ماتَم اُٹھے وہ طیب و طاہِر گیا(1)

وضاحت: اے خوږه الله پاکه! د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وسیله ! کوم عاشقِ

1... حدائقِ بخشش، صفحه:5453-

رسول چې هم د دُنيا نه لاړ شي نو چې ستا فرښتے دا اونۀ وائي چې وګورئ! دا فاسِق، فاجِر ګنهګار مړ شو- اے الله پاکه! داسې کرم وې چې کوم عاشقِ رسول د دُنيا نه لاړ شي نو پۀ عرش کښې خوشحالي شي، فرښتے وائي: وګورئ! وګورئ! هُغه دے د نيک مسلمان رُوح راروان دے او پۀ زمکې والؤ باندې غم وي چې آه! يو نيک، پاک اِنسان د دُنيا نه رخصت شو- الله پاک دې مونږ د دې عارضي د اوسيدو د ځائے د محبت نه بچ کړي او د اخرت فِکر او د دې د تيارۍ توفيق دې راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نعت کوليکشن موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا مختلف ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، پۀ کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کيشن دے: ***Naat Collection*** (نعت کوليکشن) ❁ پۀ دې بے بها ايپلي کيشن کښې د اهلِسُنَّت علمائے کرامو د نعتونو، کلامونو او د منقبت 8 مشهور کتابونه شامل دي ❁ پۀ دې کښې د خپلې خوښې کلام د لټولو سره هغه پۀ آډيو کښې د مختلفو نعت خوانانو پۀ اواز کښې اوريدے او ويډيو کتلے شي ❁ تاسو د خپلې خوښې کلام پۀ مائي کليکشن ***My Collection*** فيچر کښې محفوظ کولے او چې څۀ وخت غواړئ اوريدے يې شئ- ❁ د دې ايپ نه هر يو نعت يا شعر کاپي کولے او پۀ واټس ايپ، فيس بيک، ټويټر وغيره باندې شيئر کيدے شي- دا ايپ پخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

**مسئله:** پهٔ نــمونځ کښې قومه او جلسه دواړه واجِب دي-

**وضاحت:** د رکوع نه پس بالکل نيغ ودريدلو ته **قومه** وئيلے شي- او د دواړو سجدو ترمينځه ناستې ته **جلسه** وئيلے شي- دلته بعضې خلق نــمونځ زر زر کوي او قومه او جلسه پريږدي، يعنې د رکوع نه پس بالکل نيغ نهٔ ودريږي، لږ شان ودريږي او فوراً سجدې ته ځي، دغه شان د دواړو سجدو ترمينځه نيغ نهٔ کښيني، فوراً بلې سجدې له ځي- ياد ساتئ چې **پهٔ نــمونځ کښې قومه او جلسه دواړه جُدا جُدا واجب دي**- پهٔ نــمونځ کښې که پهٔ دواړو کښې يوه هم پهٔ هيره باندې پاتې شي نو سجده سهو لازم کيږي، او که قصداً عمداً پريښودے شي نو نــمونځ به بيا کول ضروري وي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنٰى برکتونه (وظيفه)

## يَا صَمَدُ

څوک چې روزانه د الله پاک دا مبارک نوم يَا صَمَدُ زر [1000] کرته لولي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! پهٔ دښمن باندې به فتح حاصله کړي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...فتاوىٰ اہلسنت (غير مطبوعه)، فتوىٰ نمبر:WAT2370۔

[2] ...مدنى پنج سوره، صفحه:255۔